# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومې اوومه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۲۷مه | ۶۵۲مه ګڼه

2 017550 139621


## پوهنتون

۴ مخ

### برلاس د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

پر کتابتون سربېره، د لوړو زده کړو دې موسسې د خپلو محصلینو د وړتیاوو لوړولو لپاره د کمپیوټر او انګلیسي ژبې کورسونه، کمپیوټر لب، اونیز او میاشتني ورکشاپونه هم چمتو کړي دي.



کرنې وزارت:

### په هېواد کې د پیازو سږني حاصلات تر ۲۰ سلنې زیات شوي



کرنې وزارت وايي، په هېواد د پیازو سږني حاصلات د تېر په پرتله تر ۲۰ سلنو زیات شوي دي.

د یاد وزارت په خبره، تېرکال د هېواد په کچه درې زره او ۵۲۰ متریک ټنه پیاز تولید شوي وو. د کرنې وزارت د معلوماتو له مخې، سږکال د هېواد په کچه په ۱۸ زره او ۳۴۰ هکټاره ځمکه کې پیاز کرل شوي او اټکل کېږي چې د تېرکال په پرتله به یې حاصلات تر۲۰ سلنه زیات شي.

د کرنې وزارت د چارواکو په خبره، تېر کال د زېرمتونونو د نشتون له وجې د دغه مهم کرنیز محصول ډېره برخه د څه باندې ۲۹ میلیونه ډالرو په ارزښت له هېواده بهر صادر شوې، خو سږکال د کرنیزو محصولاتو مدیریت د پروژو په پلي کېدو سره، د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د پیازو د درې زره او ۲۰۷ زېرمتونونو د رغولو چارې پیل شوې، چې د یادو زېرمتونونو له ډلې د ډېرو هغو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوي دي.

# د بین الافغاني مذاکراتو بل پیلېدونکی پړاو؛

## حامد کرزی: موږ او طالبان باید ځانونه د پردیو له کنټروله خلاص کړو



۳

مبهمه راتلونکې؛ هدفي وژنو وېره او وحشت خپور کړی ۲ مخ

د افغانستان لاجورد د چین د هنر او فرهنګ په غېږ کې ۲ مخ

د بلاګانو د مور ځلوېښتي ۳ مخ

### بشري حقونو کمېسیون: روان کال په ختیځ زون کې ۱۰۵۴ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې

په ختیځ زون کې د بشري حقونو کمېسیون وايي، روان کال په دغه زون کې د جګړو له امله ۱۰۵۴ تنه ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

یاد کمېسیون د ملکي تلفاتو د کچې لوړېدو په اړه اندېښنه ښیي او د جګړې له دواړو خواوو غوښتنه کوي، چې د ملکیانو د ژوند خوندیتوب ته پام وکړي. د کمېسیون د معلوماتو له مخې، په دې موده کې یوازې په ننګرهار ولایت کې ۲۱۱ تنه نارینه، شپږ تنه ښځینه او ۳۵ ماشومان وژل شوي او ۳۰۰ نارینه، ۱۵ ښځینه او ۱۰۴ ماشومان ټپیان شوي دي.

د بشري حقونو ولایتي کمېسیون وايي، ډېری دغه مرګ ژوبله د مقناطیسي او سړک غاړې ماینونو، ځانمرګو بریدونو، هدفي وژنو او د حکومت په عملیاتو کې رامنځته شوې دي. د ننګرهار ځايي اوسېدونکي هم وايي، د روانې جګړې قربانیان عام وګړي دي. دوی د جنګ له ښکېلو لورو د تاوتریخوالي ختمېدو اوربند غوښتنه کوي.

دا په داسې حال کې ده چې په دوحه د امریکا او طالبانو له خوا د سولې تړون تر لاسلیک او د سولې بین الافغاني خبرو له پیل سره هممهاله په ټول هېواد کې جګړې او نښتې ډېرې شوې دي. په دغو جګړو کې هره ورځ د ښکېلو اړخونو په ګډون ګڼو ملکیانو ته هم مرګ ژوبله اوړي.

### د سولې دویم پړاو خبرې باید په ټاکلي وخت بېرته پیل شي



۵ مخ

اتحادیه اروپا:

### گفتگوها بدون توافق بر آتش بس، نتیجه ای نخواهد داشت




رئیس کمیتۀ روابط پارلمان اتحادیه اروپا با افغانستان، مذاکرات صلح را یگانه راه ختم جنگ در افغانستان خوانده از طالبان می خواهد که آتش بس را بپذیرند؛ زیرا به گفتۀ او گفتگوها بدون توافق بر آتش بس، نتیجه ای نخواهد داشت.

پتراس اشتراویچس، رئیس کمیتۀ روابط پارلمان اتحادیه اروپا با افغانستان، در مصاحبۀ اختصاصی با خبرنگار پژواک در بروکسل گفته است که کمک مالی خویش برای حکومتی که نظام افراطی داشته باشد، را ادامه نمی دهند و خواستار حفظ دست‌اوردهای نزدیک به دو دهه گذشته در افغانستان می باشند.

با این حال این مقام پارلمان اتحادیۀ اروپا، از افزایش خشونت‌ها در افغانستان ابراز نگرانی کرد و کاهش خشونت را برای ایجاد حسن نیت مهم خواند.

اشتراویچس درادامه صحبت هایش افزوده است: «ما اعتقاد داریم که گفتگوهای صلح، راه درست برای رسیدن به صلح پایدار است، نه فقط آتش بس. اگر مذاکرات صلح با حسن نیت به پیش برود، نیازی به آتش بس نخواهد بود. مردم افغانستان پس از چهاردهه جنگ‌های داخلی ویرانگر، نسبت به خشونت و رنج‌های فراوان که از هراس‌افگنی دیده‌اند، نگران اند. من آرزو دارم این نسل، شاهد صلح پایدار و همه‌گیر مبتنی بر توافق سیاسی محکم بین همه گروه‌های درگیر باشند، نه فقط برای تعدادی از افراد که بازهم درگیری ادامه داشته باشد.»

Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## سرلیکنه

### مبهمه راتلونکې؛ هدفي وژنو وېره او وحشت خپور کړی

په دې وروستیو کې د کابل په ګڼون په ګڼو لویو ښارونو کې د مقناطیسي ماین چاودنې ډېرې شوي او تر څنګ یې د عامو وګړو ترمنځ وېره او وحشت خپور دی. په وروستیو اونیو کې د کابل ښاریانو هر سهار د مقناطیسي ماین په چاودنه پیلېږي، همدا پرون په کابل کې څلور چاودنې شوې دي. یوه له حضوري چمن سره، دویمه د شپږمې حوزې په مربوطاتو کې، دریمه د دریېمې حوزې په مربوطاتو کې او څلورمه هم په ده سبز کې شوې ده. دې هرې چاودنې تلفات هم لرل، د تلفاتو تر څنګ یې مالي زیانونه اړولي او د ښاریانو ترمنځ یې وېره خپره کړې ده.

سره له دې چې د کابل ښار د امنیت مسوولیت له څه باندې دوو میاشتو راهیسې د ولسمشر د لومړي مرستیال امرالله صالح پر غاړه دی، خو نه یوازې دا چې جنایي او امنیتي پېښې کمې شوې نه دي، بلکې وېره ډېره شوې او کابو هره ورځ په کابل کې چاودنې کېږي. د دغو چاودنو سرحد ان تر موټربم بریدونو هم ورسېد او د کابل په پنځمه ناحیه کې د ولسي جرګې پر یوه غړي د موټربم برید وشو. د دې بریدونو مسوولیت هېڅ ډله په غاړه نه اخلي. نه یوازې د مقناطیسي ماین د چاودنو، بلکې د ډېری هدفي بریدونو مسوولیت هم تر دې دمه کومې ډلې نه دی منلی. د کابل په ګډون په ولایتونو کې هم هدفي بریدونه روان دي، خبریالان، مدني فعالین، سیاسي فعالین او د نظر خاوندان په نښه کېږي. دا هر څه داسې مهال روان دي چې له یوې خوا بهرني ځواکونه په وتو دي، له بلې خوا په دوحه کې د سولې خبرو دویم پړاو پیلېږي، طالبان پر خپل دریځ ټینګار کوي، حکومت د اوربند غوښتونکی دی او لا هم دا نه ده معلومه چې دویم پړاو مذاکرات به د افغانانو له هیلې سره سم پایلې ولري کنه.

اوس پوښتنه دا ده چې دغه ډول پېښې ولې رامنځته کېږي؟ حکومت ولې تر دې دمه په دې نه دی بریالی شوی چې په کابل ښار کې د هدفي وژنو او مقناطیسي ماینونو د ایښودونکو شبکې پیدا کړي او یا لږ تر لږه ولس ته وضاحت ورکړي چې دا پېښې له کومه ځایه تنظیمېږي. له یوې خوا حکومت ځان د ټولو ترهګرو ډلو پر وړاندې بریالی بولي، خو له بلې خوا په کابل کې هره ورځ په خپله پر امنیتي ځواکونو د مقناطیسي ماین چاودنې د جدي پوښتنې وړ مسئله ده. د دې تر څنګ هدفي بریدونه همدا شان حکومت یې تر دې دمه په اړه وضاحت نه دی ورکړی او نه یې په وروستیو کې د ترسره شوو هدفي بریدونو کوم مسوول یا تورن کس نیولی دی.

له دې سره د افغان سیاسیونو ترمنځ دا وېره هم خپره ده چې ښايي ځینې کړۍ په ډېر ماهرانه توګه په کلیو او بانډو کې د بنسټیزو پروژو او عامه تاسیساتو په ورانولو لګیا وي او په ښارونو کې د فکر او نظر خاوند کسان په نښه کوي او په دې توګه له سولې وروسته د را روان وضعیت لپاره ځان ته زمینه برابروي. افغان سیاسیون جدي اندېښنه ښیي چې باید حکومت پر وضعیت کنټرول پیدا کړي او مسایل دې دومره ساده نه ګڼي.

د حکومت مسوولیت دی چې د رسنیو، خبریالانو، مدني فعالینو، عامه تاسیساتو او بالاخره هر افغان او افغانستان ساتنه وکړي او دلته دې چې د حکومت تر چتر لاندې هر څه ترسره کېږي، ولس او تاریخ ته به ملامت حکومتي چارواکي او د وخت حاکمان وي.



# د افغانستان لاجورد د چین د هنر او فرهنګ په غېږ کې

لیکنه: ډیوه - د چین نړیوالې راډیو د پښتو څانګې خبریاله



د لاجوردو کلتور او صنعت اوږد تاریخ لري. د افغانستان په بدخشان کې د لاجوردو استخراج چارې څه د پاسه شپږ زره کلن تاریخ لري. لاجورد په افغانستان، پاکستان، هند، امریکا او په څو نورو هېوادونو کې پیدا کېږي، خو د افغانستان لاجورد تر ټولو د ښه کیفیت لرونکي دي او هم ښکلي دي. د لاجوردو ښایسته اسماني رنګ د بې ساري توب استازیتوب کوي او دغه طبعي لاجوردي رنګ له افغانستان څخه ټولې نړۍ ته یوه ارزښتناکه ډالۍ ګڼل کېږي.

لاجورد زرګونه کلونه مخکې د وربښمو لرغونې لارې له لارې چین ته داخل شوي او د دغه هېواد د بېلابېلو امپراطورۍ په دورو کې د امپراطورانو او د دربار جګپوړو مامورینو د خوښې وړ ګرځېدلي دي. په اوسنۍ زمانه کې لاجورد د چین د قېمتي ډبرو په بازار کې زیات مینه‌وال لري.

تاسو ته معلومه ده چې د افغانستان له لاجوردو څخه په چین کې څه ډول بېلابېل هنري توکي، اثار او زیورات جوړېږي؟

په چین کې لاجورد په سرو زرو او قېمتي ګاڼو کې کارول کېږي او خلک یې ډېر خوښوي. مشهور چینایي زرګر دوجیان یې لاجورد ډېر خوښوي او په ډېرو ښکلو ګاڼو او زیوراتو کې ترې کار اخلي، نوموړی پر ګاڼو د سرو زرو نازکې کرښې وباسي او بیا لاجورد او د نورو قېمتي ډبرو غمې پرېږدي او په زرګرۍ کې لوی لاس لري. هغه وایي، کله چې د لاجوردو اسماني رنګ له طلایي رنګ سره مل شي، نو ډېر ښکلی ښکاري، چینایان له سور، شین او ژېړ رنګه لاجوردو سره ډېره مینه لري او دا یې یو تاریخي دود دی. زه په امپراطورۍ ماڼۍ کې کارېدلي تخنیک ته په کتو، پر ګاڼو د سرو زرو نازکې کرښې وباسم او بیا د لاجوردو په ګډون د ډول ډول قېمتي ډبرو غمې پرې کاروم، چینایان یې له پخوا زمانو راهیسې ډېر خوښوي.

همدارنګه د دې تر څنګ د لاجوردو ډبرې د بڼې له مخې ډول ډول مجسمې چې څېرې یې له چینې کلتور سره مشابهت او ټینګ تړاو لري، د هنرمندانو په لاس په هنر سره حکاکي کېږي. په چین کې د قېمتي ډبرو د حکاکي کولو په ساحه کې د ملي کچې ښوونکی او مشهور هنرمند جانګ تي چنګ په دې برخه کې څه د پاسه شل کلنه تجربه لري، له لاجوردو څخه د مجسمو په جوړولو لګیا دی او تر اوسه یې ډېرې زیاتې مشهورې لاجوردي مجسمې جوړې کړې دي. هغه د لاجوردي مجسمو له جوړولو سره مینه لري او په دې اړه ژور احساسات لري. هغه وایي، ما په لومړي سر کې د قېمتي ډبرو د حکاکۍ په یوه فابریکه کې څو کاله کار کړی، خو هلته مې هېڅکله د لاجوردو حکاکي نه وه کړې. پوهېږې ولې؟ ځکه د تېرې پېړۍ په نویمه لسیزه کې لاجورد یوه ډېره ګران بیه ډبره بلل کېده او هغو کارګرو چې اته یا لس کلنې تجربې نه درلودې، اجازه نه درلوده چې لاجورد حتی لمس کړي، ځرنګه چې لاجورد ډېر قېمتي وو او له افغانستان څخه وارد شوي وو چې په هغه وخت کې له افغانستان څخه چین ته د لاجوردو د واردولو په ترڅ کې ډېرې ستونزې پر خپل ځای وې.

بلخوا له لاجوردو څخه د مجسمو جوړول ډېر باریک او ستونزمن کار دی. د بېلګې په ډول، موږ همېشه له لاجوردو څخه د چینې کلتور له مخې د مشهورو انسانانو څېرې او مجسمې جوړوو، نو لومړی باید د اړوند شخص څېرې له مخې لاجوردي ډبره پالش او ښه صیقل شي، که په دې ترڅ کې فشار لږ او یا زیات شي، ښايي ډبره ماته او زیانمنه شي او د مجسې ښکلا خرابه شي. نو د لاجوردي مجسمې جوړېدو په ترڅ کې باید په دقت سره او په حوصلې سره کار وشي او معمولاً د یوې مجسمې بشپړېدل ډېر وخت ته اړتیا لري.

د چین په لرغوني زمانه کې د لاجوردو د تعریف په اړه یوه جمله شته چې د لاجوردو رنګ اسمان ته ورته دی او وربانديې د سرو زرو ټکو کې د زرګرۍ کارونه یې داسې دي لکه په اسمان کې ستوري. د چین د لرغون پېژندنې د ریکاډ له مخې په چین کې د لاجوردو د پیدا کولو او استفاده کولو تاریخ د دویمې پېړۍ د ختیځ هان امپراتورۍ دورې ته رسیږي او د چینګ د امپراتورۍ له دورې مخکې د لاجوردو سینګار د منځنۍ او په لوېدیځه اسیا کې له مروجو سبکونو او شکلونو سره ورته و. د چینګ د امپراتورۍ په دوره کې د ختیځ او لوېدیځ تر منځ د تجارت له پرمختګ سره د لاجوردو اصلي سوچه ډبرې چین ته راوړل شوې دي او په هغه وخت کې چینایي هنرمندانو د چین د کلتور له مخې د غرونو، ونو، بودایانو او په لرغونو کیسو کې د مشهورو انسانانو د څېرو ډول ډول مجسمې حکاکي کړې دي.

د لاجوردو مشهور ماهر او کاروباري شوی لیان شنګ چې روان کال څلور اویا کلن دی، وایي، څه د پاسه شل کلونه مخکې مې لومړی ځل لاجورد ولیدل او د لاجوردو شینوالي ځان ته وکاږلم او لاجوردي هنر ته مې مخه کړه. هغه هیله لري چې په دې توګه لا ډېر چینایي مشتریان د افغانستان لاجورد وپېري او د لاجوردو په وسیله د چین او افغانستان تر منځ کلتوري تګ راتګ لا پیاوړتیا ومومي. شوی لیان شنګ وایي، په لرغوني زمانه کې له افغانستان څخه تر منځنۍ او لوېدیځې اسیا، د مدیترانې سمندر او روم ته لار د لاجوردو په نامه یادېدله. د چین د هان د امپراتورۍ په دوره کې د وربښمو لرغونې لارې استازي چانګ چیان په مشرۍ لومړي کاروان پرې سفر کړی او پرانیستل شوې ده، له دې وروسته دا دوې لارې یو له بل سره ښښلول شوې، نو لاجورد هم له دې لارې چین ته داخل شوي دي. ویلی شو چې د لاجوردو لاره او د وربښمو لرغونې لاره د دوو جلا کلتورونو د یو ځای کولو او پیوستون لاره ده. د چینګ امپراتورۍ له دورې وروسته د وربښمو لارې پرمختګ وکړ او مشهوره شوه او د یونګ جنګ امپراتور زیات لاجورد چین ته وارد او راوړل چې په امپراتورۍ ماڼۍ کې د امپراتورۍ کورنۍ په تېره بیا د مېرمنو او د جګپوړو مامورینو ډېر خوښ شول.

لاجورد د شوی لیان شنګ لپاره یوه بله کړکۍ خلاصه کړه، له تقاعد وروسته یې د ژوند د خوښې وړ یوه علاقه تر لاسه او موندله. له لاجوردو سره د ده دې کیسې په ترځ کې باید د تېرې پېړۍ د نویمې لسیزې پیل یادونه وشي. هغه وایي، په هغه وخت کې ما د بهرنۍ سوداګرۍ په یوه دولتي شرکت کې کار کاوه او زموږ شرکت له افغانستان څخه یو ټن لاجورد وارد کړل. موږ د لاجوردو په هکله دومره زیات معلومات نه درلودل. ما د لاجوردو په اړه کتابونه مطالعه او ولوستل، له اړوندو پوهانو څخه مې هم په دې اړه پوښتنې وکړې او پر دې باندې وپوهېدم چې لاجورد ډېره ارزښتمنه قېمتي ډبره ده او د افغانستان د ملي ډبرې په توګه بلل کېږي او ځانګړی جالب رنګ لري چې د اسمان په شان صاف شین دی. په دغه یو ټن لاجوردو کې څه د پاسه اویا سلنه هغو یې ډېر ښه کیفیت درلود، ما چې کله د لومړي ځل لپاره لاجورد ولیدل، احساس مې وکړ چې لاجورد د اسمان او سمندر ګډ رنګ لري چې ښکلی، دروند او موزون دی.

وروسته یې په خپله یو ټن لاجورد واخیستل او په چین کې د لوړې کچې د قېمتي ډبرو د حکاکي کولو په ساحه کې له مشهورو حکاکګرو سره یې تماسونه ونیول. ویلی شو چې شوی لیان شنګ او د لاجوردو د حکاکۍ ماهر هنرمند جانګ تي چنګ یو بل ته ګټې او په دې توګه بریالیتوبونه په برخه کړي دي. جانګ تي چنګ د لاجوردو د حکاکي هنر په مټ ډېرې عجیبې پنځونې کړې دي، چې د ستاینې وړ دي چې لامل او سرچینه یې شوی لیان شنګ بولي. جانګ تي چنګ وایي، شوی لیانګ شنګ هیله درلوده چې زه له لاجوردو څخه په زړه پورې ظریف تزئیني هنري توکي جوړ کړم. په څه د پاسه دوو کلونو کې مې په ځانګړې توګه له لاجوردو څخه د انسانانو، حیواناتو، ګلونو، لوښو او بوتلونو په شمول ډول ډول هنري اثار جوړ کړل، چې زما د حکاکي کولو او ډیزاین او مهارت سویه ورسره هم ډېره لوړه شوه.

د دوی تر منځ تل ښه همکاري وه. جانګ تي چنګ وایي، په چین کې د قېمتي ډبرو د حکاکي کولو په ساحه کې د نسل په نسل کارګرو ښکلي هنري اثار جوړ کړي دي. موږ د پخوانیو استادانو د لاجوردي بڼو او نظریو په راغونډولو سره لا کوښښ کوو چې له دغو هنري توکو څخه د کلتور او نېکمرغۍ اهمیت وړاندې او څرګند کړو. لاجورد د کلتور څرګندولو یو ډېر ښه بنسټ دی چې د چین کلتور د لاجوردي مجسمو پر جوړېدو اغېزه کوي او جوړې شوې لاجوردي مجسمې هم د چین کلتور خپروي. شوی لیان شنګ وایي، زه همېشه فکر کوم چې څرنګه داسې هنري اثار جوړ کړم چې د دوه ډوله کلتورونو څرګندونه په ښه توګه وکولی شي. نو ما له جانګ تي چنګ او نورو مشهورو هنرمندانو او د دې برخې له کارګرو سره همکارۍ کړې دي او ډېرې ښې لاجوردي مجسمې او اثار مو جوړ کړي دي. زه هیله لرم چې دغسې لاجوردي مجسمې د چین او افغانستان تر منځ د کلتوري تګ راتګ په برخه کې د لا نږدېوالي رول ولوبوي او دا هم د دواړو هېوادونو تر منځ په هنري همکاریو کې یوه څرګنده اغېزمنه لاره اوسي.

په حقیقت کې په چین کې د لاجوردو د جوړېدو په ساحه کې ډېر زیات زیار ایستونکي تکړه هنرمندان شته. کله چې دغه ښکلي اسماني لاجورد د چینې تخنیکونو له لارې پر هنري اثارو باندې بدل شي، د چین په بازار کې د لاجورد مینه‌وال به نور هم ورسره ډېر زیات شي.

# د بلاګانو د مور څلوېښتي

لیکنه: ولي الله ملکزی

پرون د مرغومي شپږمه او د هورا او تکبیر د غبرګو نارو یوڅلوېښتمه کلیزه وه. پرون د عقیدې او ماټریالېزم د تودې مقابلې د سړو خاطرو ورځ وه. پرون د جنتي فتواګانو او دوزخي جنګونو د پیل یادګار او منزل ته د هجرتونو او غزاګانو د ستومانه مزل تکرار و. پرون د بې اسرې یتیمانو د اوښکو او ورو ورو سلګیو زړه کیسه او د رژېدلو شهیدانو د امیدونو نیمګړې مازیګر و. پرون د باروتو پر وړاندې د یو باتور ملت د اوسپنیزې ارادې منظره او د هوسونو په سور تنور کې د فتحې سوځېدلې انځور و.

له پرون څخه څلور لسیزې وړاندې په همدې ورځ، شوروي سوسیالیستي اتحاد ۲۵ زره پوځونه افغانستان ته د هوا او ځمکې له لارې په مرش مرش راولېږل. ببرک کارمل د تاشکند له راډیو څخه د فاشست امین د مرګ او د تاریخ کندې ته د هغه د سپارلو خبر خپور کړ. هره خوا د انسان نوین، اخلاق شوروي او لیپرون بزرګ د افکارو ترانې غږېدې او د کارګري انقلاب او نړیوال سوسیالېزم د غلبې شعارونه اورېدل کیدل. د شورویانو ښکاره یرغل نهه کال یوه میاشت او ۱۹ ورځې دوام وموند، سرې لښکرې بالاخره د ۱۹۸۹ کال د فبرورۍ په پنځلسمه له حیرتان څخه سرټیټې واوړېدلې.

د شوروي یرغل د ۳۳۳۶ ورځني اشغال په ترخ کې زما ښه په یاد دي چې د هجرت په لومړنیو کلونو کې به چې کله موږ په پېښور کې غونډو او کنفرانسونو ته تللو، نو یو جهادي مشر به لومړی بخارا، ورپسې فلسطین ازاد کړل او بیا به خپل هیواد ته راستون شو؛ خو زموږ د یونیم میلیون شهیدانو وینې او د یو میلیون کونډو اوښکې لا وچې نه وې چې د ځینو جهادي تنظیمونو مشران په ډېره بېړه د بوریس یالتسین د دیدار پخاطر د کرملین سور میدان ته ورسېدل او د تاوان غوښتنه خو څه د معذرت کلمه هم د چا په ژبه رانغله!

د یرغل په نتیجه کې د هیواد درېیمه برخه وګړو چې شمېر یې له پنځو میلیونو اوښت، ګاونډیو هیوادونو ته پناه یووړه. په ۱۹۸۵ کال کې د پېښور په بیت الانصار کې د القاعدې د بنسټ ډبره کېښودل شوه. د شمالي افریقا او نورو شتمنو عربي هیوادونو په زرګونو ځوانان په ارزان بیه هوایي ټکټونو له کمونېزم سره د ډغرې په پار افغانستان ته راغلل. افغانانو سوکه سوکه د زرقاوي، تکفیري، داعش، رافضي، حشد شعبي، خوارج او فاطمیون نومونه واورېدل. د شوروي یرغل بله پایله دا شوه چې پوره دوه نسله مو د جنګ او دروېزې په فرهنګ کې را لوی شول او د ځان وژنې، سر غوڅونې او رقص مرده له کلچر سره بلد شول. پخوا به زموږ په ټولنه کې خلکو له تورسرو څخه لاره بچوله، که چا به څوک وواژه او قران پر سر مېرمن به د مقتول کور ته ورغله، نو ورثې به خپل مړی ور وبښه؛ خو همدا وړمه ورځ مو د پیغلې فرشتې کوهستانۍ او دوې اونۍ وړاندې د پیغلې ملالې میوندۍ جسدونه تر سترګو شول، چې په ګولیو غلبېل غلبېل شوي وو، همدا د شوروي اتحاد د یرغل سوغات دی چې موږ ته یې پرېښود.

که د احساساتي برخورد پر ځای یوه واقعي ارزونه وکړو، نو د برلین د دیوال ماتېدو افغانانو ته څه ګټه وکړه؟ د دومره میلیاردونو او بې توله پیسو له راتګ سره سره، پنځه اتیا سلنه خلک مو په دوه وخته ډوډۍ پسې لالهانده دي. په خیراتي پیسو جوړ پلونه او سړکونه، مګر د چندو په راټولو شوو پیسو یې ببرته الوځوو. ښوونځي سوځوو او دار المعلمین چور کوو، د قلم، محراب او پګړۍ سرې په چسپکي بمونو وژنو. که شوروي اتحاد پر پنځلسو خپلواکو هیوادونو وویشل شو، موږ ته یې څه ګټه ورسوله؟ اوسه هم د هغوی په رکاب کې له ترهلو هیوادونو څخه غنم راوړو او برېښنا ترې اخلو. بیا لاپې وهو چې موږ شوروي مات کړی دی؟ که نړۍ له دوو قطبونو څخه یو قطبه او په اصطلاح یکه تازې شوه، افغانستان او افغانانو ته یې څه خیر ورسید؟ نن په نړۍ کې تر ټولو بې قدره او کم ارزښته پاسپورټ د افغانستان دی. د نړیوالو معیارونو له مخې، افغانستان د مفسدو دولتونو په لومړي سر کې ولاړ دی. د ټولې نړۍ نوي سلنه تریاک دلته تولیدېږي، قیمت یې په میلیاردونو دی؛ خو زموږ بزګران په خېټه مزدوران دي. شل کاله وشول چې له کونړه تر نیمروزه په ۱۳ ولایتونو کې درې نیم میلیونه هلکان او نجونې له تعلیم څخه محرومې دي. د یو ګاونډي هېواد د ویزې د تر لاسه کولو لپاره دوه سوه ډالره رشوت ورکوو، خو برېتونه په شړشمو غوړوو چې موږ وارسا په ګونډو کړېده.

ګاونډیانو داسې مزبوت له ګریوانه نیولي یو چې څومره خوځېږو، هماغومره ژوبلېږو. یو مو په سینه اغزن سیم تیروي او بل مو ملي هویت، تاریخي شخصیتونه او ټرمنالوژي قینچي کوي. څو ورځې وړاندې مو ولیدل چې ښاغلي ظریف له طلوع سره په مرکه کې په اګاهانه ډول شپږ کرته د افغان پر ځای د افغانستاني کلمه وکاروله، څو سپین سترګي لا څیرسترګي کړي. افغان ملي بیرغ او ملي سرود بابېزه او د یو قوم د هویت سمبول ګڼل کیږي. ځینې جنابان خو لا درېدل ورته بدعت ګڼي، ولې د بل ملک ترانې ته بیا لاس په سینه ولاړ وي.


لکه څرنګه چې دا دین د یوې ډلې نه دی او دا ملک د څو زورواکو او چارواکو نه دی، همدارنګه دا جهاد او ویاړونه یې هم د څو محدودو تنظیمونو او ګروپونو میراث نه دي. هر هغه چا چې د سور پوځ پر وړاندې مبارزه کړې، د کمونېزم مرده باد چیغه یې وهلې، په لاریون کې یې ګډون کړی، مقاله یې لیکلې او په کوم کنفرانس کې یې د اشغال خلاف چک چکې کړې، دا ټول د قدر وړ دي. ولې د سور پوځ ماتول، په سنګرونو کې د پرتو مجاهدینو د میړانو، وینو او سربښندنو نتیجه ده او که څوک د مجاهدینو له شهامت څخه سترګې پټوي، نو دا به د تاریخ د مسخه کولو یوه ناروا هڅه وي.

ښاغلي حکمتیار ومنله چې پر جلال اباد یرغل یوه اشتباه وه. ښاغلي سیاف وویل مه پرېږدئ چې یو ځل بیا د پردي د دیوال چنې ته کېنو او ښاغلي حاجي دین محمد افسوس وکړ چې کاشکې موږ د ډاکټر نجیب د سولې وړاندیز منلی وای. دغه ډول پښېمانۍ او د خپلې غلطۍ منل، د رسول علیه الصلاة و السلام د هغه مبارک حدیث مصداق دی چې (کل بني آدم خطاء، وخیر الخطّائین التوابون – د ادم هر بچی غلطي او اشتباه کوي، خو بهتره یې هغه دی چې توبه باسي او خپلې اشتباه ته متوجه کیږي).

که زموږ د سپېڅلي جهاد او ولسي پاڅون مشران له پیل څخه یوه خوله وای او تنظیمي مصلحتونو او فکري اختلافونو ته یې ځای نه وای ورکړی؛ نن به د ثور د اوومې او جدۍ د شپږمې دغه معلوم الحاله مجرمین د قانون په چوکاټ کې د زندانونو د کټارو تر شا پراته وو. په ژوندونې پر انسانانو د بېلدوزرو د ګرځولو او د پلچرخي په پولیګون کې د وحشتونو پوښتنه به ترې شوې وی، چې دغه موحد او دینداره ولس مو ولې د پرولتاري ډیکتاتورۍ او د مارکس او لیپرون د الحادي نظریې په خاطر بې کفنه په ورکو قبرونو کې خښ کړ؟

# د بین الافغاني مذاکراتو بل پیلېدونکی پړاو؛

## حامد کرزی: موږ او طالبان باید ځانونه د پردیو له کنټروله خلاص کړو



په هېواد کې د تاوتریخوالي له روان بهیر سره هممهاله په کابل کې د سولې لپاره هڅې چټکې شوې دي. تېره ورځ په کابل کې د ملي مصالحې عالي شورا د رهبرۍ کمېټې دویمه غونډه هم وشوه. ګڼو سیاسي څېرو او د سیاسي ګوندونو مشرانو په دې غونډه کې ګډون کړی و او د سولې راتګ یې مهم وباله. بلخوا پخواني ولسمشر حامد کرزي بیا په یوه تازه مرکه کې ویلي، د بین الافغاني مذاکراتو دواړه لوري باید ځانونه د پاکستان له اغېزې خلاص کړي. هغه همدا راز ټینګار کړی چې که په دوحه کې بین الافغاني مذاکرات پایلې ته ونه رسېږي، نو د دې احتمال شته چې سیاسي ناندرۍ ډېرې شي.

په بین الافغاني مذاکراتو کې د افغان حکومت پلاوی اوس په کابل کې دی او دلته له افغان حکومت سره پر بحثونو بوخت دی. تېره ورځ مذاکراتي پلاوی د ملي مصالحې عالي شورا د مشرتابه په غونډه کې هم حاضر و. په دې غونډه کې ټینګار وشو چې باید د سولې لپاره هڅې ډېرې شي او بین الافغاني مذاکرات پر خپل وخت پیل شي. په غونډه کې د ولسمشر دویم مرستیال بیا وویل چې د افغان سولې په تړاو تر داخلي بُعد بهرنی اړخ خطرناک دی. د ده په خبره، ځینې بهرنیان په دې مسئله کې مداخله کوي او دا د افغانستان لپاره خورا خطرناکه مسئله ده. په دې غونډه کې داسې خبرې هم کېدې چې له رسنیو پټې وې.

د همدې څرګندونو په تړاو تر امرالله صالح وړاندې پخواني ولسمشر حامد کرزي له عرب نیوز سره په خبرو کې ویلي چې د مذاکراتو دواړه لوري باید ځان د بهرنیانو په تېره د پاکستان له نفوذ خلاص کړي. د ده په خبره، د پاکستان یا نورو تر اثر لاندې خبرې افغانستان ته ثبات نه شي راوستلی. هغه همدا راز ویلي چې دواړه لوري باید ژر تر ژره بین الافغاني مذاکرات پیل کړي او یوې پایلې ته دې سره ورسېږي. د ده په خبره، دواړه لوري باید د امریکایي ځواکونو تر وتلو مخکې پایلې ته سره ورسېږي او جګړه دې ختمه کړي. پخواني ولسمشر حامد کرزي خبرداری ورکړی که طالبان او افغان حکومت ژر توافق ته سره ونه رسېږي، نو د دې احتمال شته چې هېواد یو ځل بیا د سیاسي ګډوډیو په ډګر بدل شي.

د ملي مصالحې عالي شورا د رهبرۍ شورا په غونډه کې هم ټینګار وشو چې د بین الافغاني مذاکراتو دویم پړاو باید ژر تر ژره پیل شي او د ځای ټاکل دې د دې سبب نه کېږي چې د مذاکراتو په پیل کې ځنډ رامنځته شي. د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله عبدالله وویل چې مذاکرات به بیا هم په دوحه کې پیلېږي؛ ځکه که پر ځای ناندرۍ او د نظر اختلاف پیل شي، نو ښایي مذاکرات وځنډېږي چې دا د افغانانو په ګټه کار نه دی. هغه همدا راز وویل چې د ملي مصالحې عالي شورا دروند مسوولیت پر اوږو لري او هغه دا چې باید دلته څلوېښت کلنه جګړه پای ته ورسوي. د ده په خبره: ((موږ یو مهم او دروند مسوولیت لرو، موږ باید دلته څلوېښت کلنه جګړه پای ته ورسوو. موږ باید د روانو وژنو مخه ډب کړو)).

بلخوا په بین الافغاني مذاکراتو کې د افغان حکومت د مذاکراتي پلاوي مشر معصوم ستانکزي هم وویل چې باید افغانان له زغم کار واخلي؛ ځکه د څلوېښت کلنې جګړې پای ته رسول د یوې یا دوو ورځو کار نه دی. هغه وویل چې دایمي سوله راوستل اوږدو خبرو او پراخ زغم ته اړتیا لري. ستانکزي ټینګار وکړ چې دوی به د مذاکراتو پر میز د افغانانو له حقونو دفاع کوي او لومړنی هدف یې دا دی چې دا ځل مذاکرات د اوربند سبب شي.

# د کرونا ډېرېدونکی ګواښ؛

## تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر له ۸۰ میلیونو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۸۰ میلیونه او ۲۹۵ زره او ۶۹۳ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۷۵۹ زره او ۵۳۳ کسان مړه شوي او له ۵۶ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۱۹ میلیونه او ۲۱۰ زره او ۴۶۰ ته رسېدلي او ۳۳۸ زره او ۲۶۳ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ۱۶۹ زره او ۸۱۸ میلیونه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د اووه میلیونه او ۴۴۸ زره او ۵۶۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د درې میلیونه او ۲۱ زره او ۹۶۴ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او فرانسه د دوه میلیونه او ۵۴۷ زره او ۷۷۱ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

برېټانیا، ترکیه، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

بلخوا د راپورونو له مخې، په فرانسې او جاپان کې د کرونا ویروس په نوې بڼه د لومړنیو کسانو د اخته کېدو موارد ثبت شوي او ورسره په دغو هېوادونو کې د کرونا د دغه نوي ډول د خپرېدو په اړه اندېښنې زیاتې شوې دي.

د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې، د فرانسې د روغتیا وزارت ویلي چې د یوه فرانسوي چې له برېټانیا خپل هېواد ته ستون شوی و، د کرونا ټېست وښوده چې د کرونا په نوې بڼه اخته شوی دی. د برېټانیا د روغتیا وزارت د ډسمبر په ۱۴ مه ویلي وو، داسې ښکارې چې په دغه هېواد کې د کرونا ویروس تازه څپه د کرونا د یوه نوي ویروس ده.





د جاپان روغتیا وزیر نوریسا تامورا خبرې غونډې ته ویلي چې پنځه تنه وروسته تر دې کرنتین شول چې دوی په دې نوې کرونا اخته شوي وو.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### درېيمه برخه
### کشمير




دورانی: غورځنګونه اکثراً د منظمو ګوندونو لهخوا يرغمل کېږي.
دولت: سل په سلو کې سمه خبره.
دورانی: مثلاً د ايران انقلاب يوه کمونېستي ګوند «حزب توده» را پورته کړ، خو وروسته بيا د «آيت الله خميني» په مشرۍ اخوندانو دغه انقلاب يرغمل کړ.
يا مثلاً په مصر کې عرب پسرلی عامو خلکو پيل کړی و، تر يو څه مودې وروسته پرې پوځ ولکه وکړه.
يا مثلاً د افغانستان ستونزه د کمونېستي ډلو په خپلمنځي جګړو پيل شوه. وروسته بيا شوروي اتحاد پر افغانستان يرغل وکړ، بيا مجاهدينو او د دوی اسلامي پلويانو ډېره خاوره ترې ونيوله، دوی نو له کمونېستانو سره غوښه او چاړه ول. خو اوس په کابل کې هماغه خلک چې له شوروي سره يې همکاري کوله، د امريکايانو د مټو په زور واک ته رسېدلي دي.
که بېرته د کشمير مسئلې ته راشم، نو امان الله او نورو مقاومت رهبري کړ، خو جماعت اسلامي تر دوی ډېر منظم او پر موږ يې نفوذ ډېر و. دا پديده نړيواله پديده ده چې يو غورځنګ پيل شي، نو لومړني مشران يې لږه موده وروسته څنډې ته شي او خپله لار پربږدي. دوی مازې د خولې خبرو ته جوړ وي، د خلکو په زړونو کې به ښه ځای لري، خو خلک هغې خوا ته چې دوی يې غواړي، نه شي رهبري کولی.

**۱۱**

### کشمير: د مودي د واکمنۍ کلونه

سېنها: جنرال صېب! په کراتو مراتو دې په ۲۰۱٦ کال کې د برهان وانې مرګ ته اشاره کړې ده، خو د ۲۰۱۷ کال اوړی بيا يو څه ارام و؛ ستاسو تمه همدا وه؟
دولت: د «برهان وانې» مرګ مازې يو کتلېست و. اخر دا «برهان وانې» لا څوک و؟ مازې يو ښايستوکی ژبی و او پر فېسبوک يې عکسونه ښکته پورته کېدل. ځينې خو وايي چې دی د (جنايي تحقيقاتو ادارې) يوه سرچينه وه. يو خدای پوهېږي چې حقيقت څه و؟
دا هر څه د ۲۰۱۴ کال ټاکنو ته ورګرځي، د دغو ټاکنو پايلې هېڅ چا ته د منلو نه وې. «BJP» د ۴۴م ماموريت خوبونه ليدل، په سرينګر کې يې د کمپاين مسئول «پامپي ګيل» زما دوست و. ده ويل چې پنځه شپږ څوکۍ خامخا ګټو، خو تمه مو دا ده چې اته څوکۍ وګټو. دوی يوه څوکۍ هم و نه ګټله.
دی کار نو «BJP» او «PDP» دواړه ناهيلي کړل، ځکه PDP هم د ۴۵ څوکيو د ګټلو خوبونه ليدل. دوی يوازې ۲۸ څوکۍ وګټلې. مفتي صېب که درې - څلور نورې څوکۍ ګټلې وای، نو پياوړی اعلی وزير به و. د هغه ملا ټينګه نه وه، ځکه خو له دې پرته بله لاره ور پاتې نه وه چې له «BJP» سره هوکړه وکړي. زه يې د مارچ پر لومړۍ د خپلې لوړې مراسمو ته ور وغوښتم. يخني لا تر هغه دمه پر خپل ځای پاتې وه. د «BJP» غړي پر سټيج حاضر و، غاړې يې سره ورکولې. اعلی وزير چې لاړ، شا وخوا کسان يې هم ورسره لاړل؛ مثلاً «اډواني»، «موراليي منوهر جوشي»، «اميت جوشي»، د «RSS» سړي، رام ماداف، ټول لاړل. مفتي صېب تېروتنه وکړه چې رسنۍ يې را وغوښتې او له بېلتون پالو او پاکستانه يې مننه وکړه.
په ډيلي کې سمدستي خلکو ويل: «ارے یار یہ کیسکو بنا دیا چیف منسٹر، یہ تو پاکستانی ہے» مطلب دا چې دا مو څوک اعلی وزير کړ؟! دا خو پاکستانی دی. ژورنالېست «جيوتي ملهوترا» ما ته ټيليفون وکړ، ويې ويل: «لطفاً يو متوازن نظر راکړه.» پر مفتي صېب مې زړه وخوړېد. دی د جمو کشمير اعلی وزير و، بايد يو څه يې ويلي وای. هغه ته د پاکستاني ويلو ګټه څه ده؟ دی ټول عمر هندوستانی و، دی ډېر کلونه په کانګرېس کې و.
له دې وروسته مفتي هېڅ هم ترلاسه نه کړل.
مفتي صېب، مودي ته په ټيټه سترګه کتل، په ځان غره و، دی نو په ډېر بد وضعيت کې و. خو دا چې په سياست کې يې يو عمر تېر کړی و، په نقد يې خوا نه بدېده، ځکه يې هر څه سم کړل. ډېره مايوسوونکې خو دا وه چې د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر د سيلابونو درد چا پټی نه کړ، په دې سيلابونو کې خلک وژل شوي وو، خلکو ته زيان اوښتی و. کشميريانو ګومان کاوه چې د «BDP او BJP» ائتلاف به ورته يو څه وکړي، خو هېڅ هم و نه شول.
دې حالت دوام وموند. مفتي صېب زړه ماتی له دنيا لاړ. ځکه خو «محبوبې» ايله درې مياشتې وروسته لوړه وکړه. په «بجبهرا» کې د مفتي صېب جنازه وه چې ايله درې - درې نيم زرو کسانو پکې ګډون کړی و.
دورانی: مننه چې دا خبرې دې وکړې. موږ خو له خدايه دا غواړو چې ستاسو پښې وښويږي.
دولت: ورپسې حالت تر دې هم بد و. محبوبه چې اعلی وزيره شوه، تر سخت فشار لاندې راغله. د «RSS» غونډې خلکو «سيکانو» او پنډټانو ته يې د ځانګړو کمپونو د ورکولو خبرې کولې يا داسې نورې خبرې. کله نا کله خو به داسې هم ويل کېدل چې د اساسي قانون ۳۷۰ مې مادې ته اړتيا نشته. کشميريانو داسې انګېرله چې ګڼې دوی ورته سيند راوړې ښکاري او دوی به په خپله خاوره کې اقليت شي. بيا به نو کشميريان چېرته لاړ شي؟ دا واقعي وېره ده. دا خبره اوس تر بل هر وخت ډېره جوته ده. يو پس پسی و، «دیکھتے ہیں، عید کے بعد کیا ہوتا ہے» مطلب دا چې ګورو به چې تر اختره وروسته څه کېږي؟ ښاغليه! موږ په لندن کې سره وکتل، ما وويل چې په کشمير کې به يو څه پېښېږي. او پېښ شول.
**دوام لري...**

# برلاس د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حميدالله حميدي



برلاس د لوړو زده کړو خصوصي موسسې د ۱۳۹۳ کال په وروستۍ مياشت (حوت) کې د جوزجان ولايت په شبرغان ښار کې غير رسمي فعاليت پيل کړ. د ۱۳۹۴کال په لومړيو کې يې د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ د دوو پوهنځيو (اقتصاد او شرعياتو) په درلودلو سره پر فعاليت پيل وکړ. د دې موسسې د اقتصاد پوهنځی دوه ډيپارټمنټونه (مالي او بانکي او محاسبه او منجمېنټ) او شرعياتو پوهنځی يې هم دوه ډيپارټمنټونه (فقه او قانون او اسلامي تعليمات) لري. د برلاس د لوړو زده کړو موسسې سرپرست رييس انجنير عبدالواحد اذرلو وايي، موسسه يې اوس هم همدا دوه پوهنځي لري.
په برلاس د لوړو زده کړو خصوصي موسسه کې اوسمهال د ۸۰۰ په شاوخوا کې محصلين پر لوړو زده کړو بوخت دي، چې ۳۵ سلنه يې ښځينه او پاتې نور يې نارينه محصلين دي.
د برلاس د لوړو زده کړو موسسې له شرعياتو پوهنځي څخه تر اوسه پورې ٦ او له اقتصاد پوهنځي څخه بيا پنځه دورې محصلين د لېسانس په کچه فارغ شوي او ټولنې ته يې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.
د لوړو زده کړو دغه موسسه په کال کې دوه ځله د کانکور ازموينه اخلي، چې په هره ازموينه کې د ۲۰۰ په شاوخوا کې نوي محصلين جذبوي. د ښاغلي عبدالواحد په خبره، د تدريس چارې يې د ۴۰ استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي چې دوکتور، ماسټر او لېسانس استادان پکې شامل دي.
د يادولو وړه ده چې د لوړو زده کړو په دغه موسسه د جوزجان ولايت د اوسېدونکو سربېره، د نېږدې نورو ولايتونو لکه سرپل، فارياب، بلخ او نورو ولايتونو اوسېدونکي هم پر لوړو زده کړو بوخت دي. د دې موسسې د ادارې هڅه دا ده چې مسلکي او تجربه لرونکي استادان پر دندو وګماري څو په کار پوه کسان ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي.
د يادولو وړ ده چې د دې موسسې د استادانو په ډله کې ښځينه استادانې هم پر دندو ګومارل شوې دي.
برلاس د لوړو زده کړو موسسه د محصلينو لپاره ځانګړی تخفيف وړاندې کوي او هغه کسان چې نه شي کولای د اقتصادي ستونزو له کبله لوړو زده کړو ته ادامه ورکړي، دوی ورته د مناسب تخفيف په پام کې نيولو سره د زده کړو زمينه برابروي. ښاغلی عبدالواحد وايي، چې جوزجان ولايت کې د خلکو اقتصادي وضعيت دومره ښه نه دی، نو د دې لپاره چې د دغه ولايت او شاوخوا نورو ولايتونو ځوانان لوړې زده کړې وکړي، دوی ورته مناسب تخفيف ورکوي. دی وايي چې د شهيدانو او معلولينو د ورثهوو لپاره يې په وړيا ډول د زده کړو زمينه برابره کړې ده. په برلاس د لوړو زده کړو موسسه کې يوازې يو وخت (د شپې لخوا) محصلين د زده کړو لپاره ورغوښتل کېږي.
د نورو اړينو امکاناتو تر څنګ، د برلاس د لوړو زده کړو موسسې د خپلو محصلينو او استادانو لپاره مجهز کتابتون هم جوړ کړی دی، چې د ۵۰۰۰ ټوکه په شاوخوا کې يې د پوهنځيو اړوند او نور بېلابېل کتابونه پکې ځای پر ځای کړي دي. د دې موسسې سرپرست رييس وايي، چې محصلين او استادان يې کولای شي چې د دغه کتابتون له کتابونو څخه وخت ناوخت ګټه واخلي او مطالعه يې کړي.
دغه موسسې د دې لپاره چې علمي اړيکې يې پراخې او د نورو له ګټورو تجربو څخه يې ګټه اخيستې وي، په کور د ننه او بهر کې له پوهنتونونو سره ښې اړيکې جوړې کړې دي. سرپرست رييس يې وايي، په کور د ننه له ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره ښې اړيکې لري او له ځينو سره يې د علمي اړيکو هوکړې هم لاسليک کړې دي. دغه راز له هېواده بهر په ترکيه او ازبکستان کې هم له ځينو پوهنتونونو سره د هوکړو د لاسليک کولو په درشل کې دي، چې له مخې يې وکړای شي د لا نورو لوړو زده کړو او تجربو تر لاسه کولو لپاره خپل محصلين او استادان دغو پوهنتونونو ته ور واستوي.
ښاغلی انجنير عبدالواحد وايي چې فارغ شويو محصلينو ته يې د فراغت سندونه چې د دوی د ادارې او لوړو زده کړو وزارت څخه تاييد شوي دي، ورکړي دي څو محصلين وکولای شي له خپل دې حق برخمن شي او پر مټ يې په کور د ننه او بهر لا نورې لوړې زده کړې وکړي او يا هم د دندې په پيدا کولو کې ترې ګټه واخلي. خو هغه ډيپلومونه چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا وېشل کېږي، تر اوسه د دوی موسسې ته نه دي ورکړل شوي. دی وايي، کله چې يې وار ورسېږي دوی به هم خپلو فارغ شويو محصلينو ته دولتي ډيپلومونه ورکړي.
پر کتابتون سربېره، د لوړو زده کړو دې موسسې د خپلو محصلينو د وړتياوو لوړولو لپاره د کمپيوټر او انګليسي ژبې کورسونه، کمپيوټر لب، اونيز او مياشتني ورکشاپونه، ورزشي لوبغالي، شنه ساحه او تر خپلې وسې پورې ټول هغه امکانات برابر کړي، چې يوه پوهنتون يا د لوړو زده کړو يوه موسسه يې بايد ولري.
د نورو پوهنځيو ايجادول، له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول، د ماسترۍ پروګرام پيلول، په ملي او نړيواله کچه له پوهنتونونو سره د علمي اړيکو پياوړي کول او د هوکړو لاسليک کول، محصلينو ته لا نور امکانات برابرول او دې ته ورته نور د برلاس د لوړو زده کړو موسسې راتلونکي پلانونه دي.
د برلاس د لوړو زده کړو موسسې سرپرست رييس ډيپلوم انجنير عبدالواحد د پوهنتون د پرمختګ په برخه کې يوازينۍ ستونزه د امنيت نشتون يادوي. دی وايي، که په هېواد کې بيا په ځانګړې توګه په جوزجان ولايت کې امنيتي شرايط ښه وي، نو کولای شي چې موسسه يې لا پرمختګ وکړي. دی وايي چې محصلين يې نه شي کولای له لرې پرتو ولسواليو څخه د امنيتي ستونزو له کبله په ډاډه زړه درسونو ته راشي. دی وايي، که امنيتي ستونزې له منځه لاړې شي، نورې ستونزې خپله له منځه ور سره ځي.
د هېواد په مرکزي ولايتونو په ځانګړې توګه په کابل ولايت کې بيا د خصوصي موسسو ډېری مسوولين د دايمي ځای نشتون، د برېښنا د بيو لوړوالی، د زياتې مالیې اخيستل او د لوړو زده کړو وزارت لخوا سخت قوانين وضع کول د خصوصي پوهنتونونو د پرمختګ په مخ کې تر ټولو ستر خنډ بولي. دوی وايي، لوړو زده کړو وزارت د دې پر ځای چې خصوصي پوهنتونونو ته د پر مختګ زمينه برابره کړي او ملاتړ يې وکړي، پر ځای يې ستونزې ورته جوړوي او د پرمختګ مخه يې نيسي. دوی دغه راز وايي چې وزارت له خصوصي پوهنتونونو سره د مور او ميرې چلن کوي او هغه امکانات يې چې د دولتي پوهنتونونو په واک کې ورکړي، خصوصي هغو ته يې نه ورکوي. د بېلګې په توګه، استادانو ته د علمي رتبو سيستم نه جوړېږي، هغه بورسونه چې د افغان محصلينو په نوم راځي، يوازې د دولتي پوهنتونونو محصلينو ته پکې ونډه ورکول کېږي او لسګونه دغه ډول نورې ستونزې شته.
خصوصي پوهنتونونه په افغانستان کې نوې تجربه ده چې د دولت پوره ملاتړ ته اړتيا لري. په نوره نړۍ کې خصوصي پوهنتونونه د پوره اعتبار وړ دي او په ډېرو مواردو کې له دولتي هغو مخکښ دي، خو په افغانستان کې يې لا هغسې اعتبار نه دی خپل کړی چې لازمه ده.

همیانی

# از گلودرد چه می‌دانیم؟ شناخت علائم و راه‌های درمان آن

احمد فردوسی

گلودرد یکی از مشکلات رایج به‌ویژه در فصل‌های سرد سال است که همه ما تجربه‌اش کرده‌ایم. گلودرد معمولاً نشانه‌ای از درگیری سیستم ایمنی و شروع علائم بیماری‌های فصلی از جمله آلرژی یا آنفولانزا است. البته گلودرد ممکن است دلایل دیگری هم داشته باشد و این روزها حتی به‌عنوان یکی از علائم اولیه ابتلا به کووید-۱۹ نگران‌کننده‌تر از قبل هم شده است. در ادامه، برای آنکه بهتر با این مشکل شایع، دلایل و درمان‌های آن آشنا شوید، علائم اولیه، دلایل احتمالی و درمان‌های پیشنهادی و اولیه را باهم به‌تفصیل مرور می‌کنیم.

گلودرد ممکن است به شکل‌ها و با شدت‌های مختلف بروز یابد و در نتیجه، یک علامت بخصوص ندارد. مهم‌ترین علائم مرتبط با گلودرد عبارت‌اند از:

مشکل در بلعیدن؛
تورم و قرمزی لوزه‌ها؛
تورم و درد در غدد گردن؛
خشونت یا گرفتگی صدا؛
درد یا احساس خراش در گلو؛
لکه‌های سفید یا چرک روی لوزه‌ها؛
دردی که با بلعیدن یا صحبت‌کردن بدتر می‌شود.

**دلایل گلودرد ممکن است چه باشد؟**

همان‌طور که اشاره شد، گلودرد ممکن است به‌دلایل مختلفی ایجاد شود که از بیماری های ویروسی و بیماری های عفونی تا آلودگی هوا را در بر می‌گیرد. در نتیجه، هر گلودردی الزاماً نشانه ابتلا به کووید-۱۹ نیست، هرچند همیشه باید بعد از شروع علائم آن، به فکر درمان صحیح باشید.

برخی از رایج‌ترین علت های گلودرد را در ادامه باهم مرور می‌کنیم:

خشکی (هوای خشک)؛
آلودگی (آلودگی هوا، دود سیگار یا مواد شیمیایی)؛
آلرژی (آلرژی به گردوغبار، گرده گل یا موی حیوانات)؛
عفونت ویروسی (ناشی از ویروس‌های سرماخوردگی، مانند آنفولانزا و کووید-۱۹)؛
فشار به عضله گلو (فریادکشیدن، بلند صحبت‌کردن یا صحبت طولانی‌مدت بدون استراحت)؛
عفونت باکتریایی (شایع‌ترین آن عفونت استرپتوکوکی است که به درمان با آنتی بیوتیک نیاز دارد)؛

برای تشخیص دلیل اصلی گلودرد به مراجعه به پزشک متخصص و دریافت درمان تحت‌نظر نیاز خواهد بود؛ اما آشنایی با دلایل احتمالی گلودرد کمکتان می‌کند تشخیص دهید که باید نگران باشید یا این درد صرفا ناشی از هیجانی است که در آخرین مسابقه فوتبال از خود بروز داده‌اید.

**چه روش‌هایی برای درمان گلودرد مفیدند؟**

درمان‌های ساده و مؤثری برای گلودرد وجود دارند که کمکتان می‌کنند سریع‌تر و با تحمل درد کمتری آن را درمان کنید. به علاوه، این روزها مراجعه به پزشک یا مراکز درمانی با نگرانی از آلودگی یا انتشار ویروس کووید-۱۹ همراه است و ممکن است خیلی‌ها درمان‌های خانگی موردتأیید پزشکان را ترجیح دهند. خوشبختانه کارهای زیادی هست که می‌توانید در منزل انجام دهید و به تسکین یا درمان گلودرد خود کمک کنید. مؤثرترین و شناخته‌شده‌ترین درمان‌های خانگی برای تسکین گلودرد عبارت‌اند از:

از قرص مکیدنی برای تسکین گلودرد استفاده کنید؛
هوا را مرطوب کنید، از دستگاه بخور آب سرد استفاده کنید؛
استراحت کنید، به‌مقدار کافی بخوابید و به صدای خود نیز استراحت دهید؛
آب‌نمک غرغره کنید، در نصف فنجان آب گرم، نصف قاشق چای‌خوری نمک حل کنید و غرغره‌اش کنید؛
از تحریک کننده‌ها خودداری کنید، مانند دود سیگار و محصولات تمیزکننده‌ای که باعث تحریک گلو می‌شوند.؛
داروهای ضددرد را امتحان کنید، این داروها مانند استامینوفن یا ایبوپروفن ممکن است برای کاهش درد مفید باشند؛
مایعات بنوشید، مایعات گلو را مرطوب نگه می‌دارند و از کمبود آب بدن جلوگیری می‌کنند، از مصرف کافئین و الکول خودداری کنید، زیرا باعث کم آبی بدن می‌شوند؛
غذا و نوشیدنی‌های گرم یا سرد را امتحان کنید، مایعات گرم مانند چای بدون کافئین، آب گرم همراه با عسل و سوپ یا غذاهای سرد مانند بستنی می‌توانند گلودرد را تسکین دهند.

**چه محصولی برای درمان گلودرد توصیه می‌شود؟**

استفاده از قرص‌های مکیدنی یکی از روش‌های مؤثر مقابله با گلودرد است که در بسیاری از موارد، باعث فروکش فوری درد و سریع‌ترشدن فرآیند درمان می‌شود. البته این قرص‌ها نیز در مدل‌ها و به‌دست سازندگان مختلفی تهیه و به بازار عرضه می‌شوند و همگی تأثیر یا کیفیت یکسانی ندارند.

پیشنهاد ما برای تسکین گلودرد استفاده از قرص مکیدنی لیکوفار است. لیکوفار یک قرص مکیدنی گیاهی است که برای تسکین گلودرد و گرفتگی صدا مفید است. این دارو پایه گیاهی دارد و حاوی عصاره گیاه شیرین بیان، روغن اوکالیپتوس و عصاره فلفل قرمز است.

**داروی لیکوفار برای درمان گلودرد**

شیرین‌بیان خاصیت ضدالتهابی دارد که برای کمک به گلودرد مفید است. روغن اکالیپتوس نیز خاصیت ضدباکتریایی دارد و برای کمک به عفونت زمینه‌ای باکتریایی مؤثر است. فلفل قرمز نیز حاوی ماده کاپسائیسین و دارای خواص ضدالتهابی و ضدباکتریایی است و گلودرد را تسکین می‌بخشد. ترکیب این سه ماده برای کاهش التهاب و تسکین گلودرد بسیار مؤثر است.

استفاده از قرص مکیدنی برای گلودرد بسیار راحت است، چراکه می‌توانید به‌راحتی آن را حمل و در زمان لزوم استفاده کنید. توصیه می‌شود به‌مدت ۳ روز، هر ٦ ساعت ۱ قرص مصرف کنید.

## عبدالله: د سولې دویم پړاو خبرې باید په ټاکلي وخت بېرته پیل شي



د ملي مصالحې عالي شورا مشر عبدالله عبدالله وایي، د افغان دولت د سولې مرکچي پلاوی باید دې شورا ته د خبرو جزیات ورکړي او د شورا بشپړ ملاتړ له ځان سره ولري.

نوموړي تېره ورځ د ملي مصالحې عالي شورا د رهبري پلاوي په دویمه ناسته کې وویل، چې بین الافغاني مذاکرات باید په خپل وخت پیل شي.

هغه زیاته کړې: «مذاکراتي پلاوی باید له روښانه او باصلاحیته کړنلارې سره خبرې بیا پیل کړي، مهمه ده چې دویم ځل مذاکرات باید په خپل ټاکلي وخت پیل او د افغانستان د اسلامي جمهوریت استازیتوب وکړي، د مذاکراتو ځای باید د دې لامل نه شي، چې خبرې له خنډ سره مخ کړي.»

په ملي مصالحې عالي شورا کې د پخواني ولسمشر حامد کرزي، جهادي مشر عبدالرب رسول سیاف او د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح په ګډون، یو شمېر پخواني چارواکي او سیاسیون غړیتوب لري.


د ولسمشر لومړي مرستیال امرالله صالح وویل، چې د افغانستان په معاصر تاریخ کې لومړی ځل دی، چې لویه ستونزه د خبرو له لارې حل کېږي، نو رامنځته شوی فرصت باید ضایع نه شي.

صالح زیاته کړه: «د افغانستان په معاصر تاریخ کې له احمدشاه بابا رانیولې تراوسه لومړی ځل دی، چې ستونزې ته سیاسي حل لاره لټول کېږي، نورې ټولې ستونزې په نورو لارو هوارې شوې.»

بلخوا د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د مذاکراتي پلاوي مشر معصوم ستانکزي په دې ناسته کې وویل، چې د سولې د مذاکراتو بهیر به خامخا له ستونزو او ننګونو سره مخ کېږي، خو د ده په وینا، چې پلاوی به د افغانستان له جمهوري دولت او خلکو دفاع کوي.

د افغان دولت او طالبانو مذاکراتي پلاویو له درې میاشتو خبرو وروسته د خبرو د رتلونکې پړاو په اړه خپلې پشنهادي اجنډاوې یو بل ته وسپارلې او پرېکړه یې وکړه، چې خپلو مشرانو سره به پرې سلا مشورې کوي.

## مشرانو جرګه: د کندهار ډېری ولسوالۍ د خیالي سرتېرو او ناسم مدیریت له کبله سقوط شوي



د امنیتي وضعیت د خرابېدو په موخه کندهار ته د مشرانو جرګې تللی پلاوی وایي، په خپلو څېړنو کې یې موندلې چې خیالي سرتېري او د مسوولینو ناسم مدیریت د ولسوالیو د سقوط لوی لامل دي.

د دې جرګې له بېلابېلو کمېسیونونو جوړ دغه پلاوی څلور ورځې مخکې کندهار ته تللی چې مشري یې د دفاعي کمېسیون مشر محمد هاشم الکوزی کوي. هغوی تر دې مهاله د خپلو څېړنو او موندنو اړوند معلومات په یوې خبري غونډه کې له خبریالانو سره شریک کړي دي.

د مشرانو جرګې د دفاعي کمېسیون مشر محمد هاشم الکوزي ویلي، پنځمه ورځ ده چې په کندهار کې دي او په دې اړه څېړنه کوي چې د کندهار ژړۍ، پنجوایي او ارغنداب ولسوالیو څنګه سقوط وکړ. هغه زیاته کړې، تر دې مهاله یې په دې اړه له امنیتي ارګانونو او اړوندو ادارو څخه څېړنې کړې او په دغو ولسوالیو کې د جګړو کرښو ته ورغلي دي.

دی زیاتوي: «له بده مرغه خیالي څواکونه، د امنیتي مسوولینو غفلت او ناسم مدیریت د ارغنداب، ژړۍ او پنجوایي ولسوالیو د سقوط لامل شوي دي.»

د ده په خبره، په هغو کنډکونو کې چې د سرتېرو شمېر یې ۷۰۰ یا ۸۰۰ تنه دی، ۷۰ یا ۸۰ تنه موجود دي، د ملي او سیمه‌ییزو پولیسو په پوستو کې هم ورته وضعیت دی.

د دې ترڅنګ هغه ویلي، ملي او سیمه‌ییزو پولیسو په پنجوایي ولسوالۍ کې ۷۲ پوستې، په ارغنداب کې ۳۲، په ژړۍ او میوند کې لسګونه پوستې له جګړې پرته خوشې کړې دي. ده زیاته کړې، ملي اردو په یادو شوو ولسوالیو کې خپل بېزونه او قرارګاوې له جګړې پرته خوشې کړي او ډېره اندازه سپکې او درنې وسلې، مهمات، تجهیزات او پوځي وسایط د طالبانو لاس ته ورغلي دي.

الکوزي دغه راز ویلي: «دا هر څه د یوه پلان له مخې شوي، ځینو سیاسي مشرانو د ټلیفون له لارې په ارغنداب، ژړۍ او پنجوایي ولسوالیو کې له امنیتي مسوولینو سره اړیکې نیولې او له هغوی یې غوښتي چې پوستې خوشې کړي.»

هغه زیاته کړې، د یادو ولسوالیو له ولسوالانو، امنیه قوماندانانو، د ملي امنیت له مدیرانو یې څېړنې پیل کړې، چا چې غلفت کړی او چا چې له خپلې دندې ناوړه ګټه پورته کړې، عدلي او قضایي ارګانونو ته به یې ور وپېژني.

نوموړي ویلي، یو شمېر مجرم پېژندل شوي کسان مرکز ته تللي، ځیني یې بهرنیو هېوادونو ته تښتېدلي، خو دوی امنیې قوماندانۍ ته د هغوی جلبولو او حاضرولو اړوند مکتوب لېږلی دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷٫۱ |
| € | ۹۳٫۶ |
| Rp. | ۴۸۰ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۳٫۲ |

### بیړنی شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202500100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL
PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696 | waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul | waygalprinting.co@gmail.com



یکشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومې اوومه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۲۷مه | ٦٥٢مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۲ | ۵ | ۶ | ۷ | ۱۱ |
| ۱۱- | ۶- | ۱ | ۲- | ۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۹ | لمر ختل ۰٦:۵۸ | ماسپښین ۱۱:۵۵ | مازیګر ۰۳:۱۲ | ماښام ۰٤:۵۰ | ماخوستن ۰٦:۲۰

## نړۍ



د کرونا ډېرېدونکی ګواښ؛

# تازه شمېرې: په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر له ۸۰ میلیونو واوښت

۳

حقوق‌دانان:

# ادامۀ کار نامزد وزیران رد شده از سوی ولسی جرگه غیر قانونی است

حقوق‌دانان ادامۀ کار نامزد وزیرانی را که از سوی ولسی جرگه رد شده‌اند، مخالف قانون و ارزش‌های نظام جمهوریت می‌دانند.

بیست و دو روز می‌شود که نامزد وزیران معارف، احیا و انکشاف دهات، اطلاعات و فرهنگ و همین‌طور نامزد ریاست بانک مرکزی در حالی‌که از سوی ولسی جرگه رد شده‌اند به کار شان ادامه داده‌اند.

وحیدالله فرزه‌یی، حقوق‌دان می گوید: «صلاحیت‌های شورای ملی معین و مشخص است و هر آن تصمیم را که شورای ملی در مطابقت با احکام قانون اتخاذ می‌کند، حکومت مکلف به اجرای آن می‌باشد.»

محمد عاصم عاصم اگاه مسایل حقوقی نیز می افزاید: «دولت جمهوری اسلامی افغانستان باید قوانین را مراعات کند و آن را نباید زیر پا کند.»

این در حالیست که ولسی جرگه ۲۲ روز پیش به شانزده نامزد وزیر و نامزد ریاست عمومی امنیت ملی رأی اعتماد دادند، اما سه نامزد وزیر و نامزد ریاست بانک مرکزی موفق نشدند رأی اعتماد مجلس را بگیرند. از این میان، آرای نامزد وزیر وزارت زنان جنجالی شد.

تاکنون اما حکومت کسانی دیگری را به‌جای این نامزد وزیران معرفی نکرده‌است آن‌ها کماکان به کارشان ادامه داده‌اند.

ولسی جرگه تاکنون تصمیم نهایی‌اش را دربارۀ رد یا تأیید نامزد وزیر امور زنان نیز اعلام نکرده‌است.

سیمین بارکزی، عضو ولسی جرگه اظهار داشت: «دوگانگی داخل پارلمان باعث شده‌است که کسی در این باره صحبت هم نکند. یک عده به‌نوعی حکومتی استند، یک عده از قانون دفاع می کنند.»

راپوره‌نه:

# پر سوریې د اسراییل په توغندیزو بریدونو کې شپږ ایراني پلوه ملېشې وژل شوي




د سوریې د بشري حقونو د څار لندن مېشتې ډلې ویلي چې اسراییل په سوریه کې د ایراني ملېشو پوستې او ځایونه په میزایلو وېشتلي دي. د یادې ډلې مشر رامي عبدالرحمن وایي، دا توغندي د لبنان له فضا توغول شوي او د سوریې د «حماة» ایالت د «مصیاف» په ولسوالۍ کې یې ایران پلوې ملېشې په نښه کړي او شپږ کسان یې وژلي دي.

د راپورونو له مخې، یو میزایل د حکومت پر هغه تحقیقاتي مرکز هم لګېدلی چې له فضا څخه فضا ته توغول کېدونکي میزایل پکې رغول کېدل او ساتل کېدل. ویل کېږي چې په دغه مرکز کې ایراني محققان کار کوي. بلخوا د اسراییل پوځ وایي، چې د بهرنیو رسنیو په راپورونو تبصره نه کوي. د سوریې د بشري حقونو د څار ډله وایي چې اسراییل په تېرو کلونو کې څو ځلې دا تحقیقاتي مرکز وېشتلی دی.

بلخوا امریکا وایي چې په دغه مرکز کې د «سارین زهرجن ګاز» تولیدېده، خو د سوریې حکومت دا تور رد کړی او وایي چې په ۲۰۱۳ز کال کې یې د یو تړون په اساس د خپلو کېمیاوي موادو زېرمې ختمې کړي او نه یې لري. د سوریې خبري اژانس «سنا» وایي چې د دفاع هوایي ځواکونو یې د «مصیاف» پر ولسوالۍ د اسرایل توغول شوي میزایل هدف ته تر رسېدو مخکې شنډ کړي دي. د سوریې دولتي تلوېزیون یوه ویډیو خپره کړې چې پکې د دغه هېواد هوایي ځواکونه ښودل کېږي چې توغول شویو میزایلو ته ځواب وایي.

راپوره‌نه:

# په امریکا کې بمي چاودنو ګڼ مالي او ځاني زیانونه اړولي دي



د امریکا د ټېنیسي ایالت چارواکي وایي، د ناشویل ښار په بمي چاودنه کې لږ تر لږه درې تنه ټپي شوي او ګڼ مالي زیانونه اوښتي دي. پولیس وایي، په سیمه کې د ډزو له اورېدو وروسته ورته خبر ورکړل شوی او کله چې سیمې ته ورغلل، د یو ولاړ موټر نه پیغام خپور شو چې په ۱۵ دقیقو کې چاودنه کېږي. پولیسو د دغه پیغام له اورېدو وروسته له سیمې خلک وایستل او د ماینونو د خنثی کولو ټیم یې د پېښې ځای ته راوغوښت، خو موټر د دې ټیم د را رسېدو نه وړاندې وچاودېد. چارواکي وایي چې د پېښې له ځای څخه درې کسان روغتون ته انتقال شوي. د دوی په خبره، د ټولو روغتیایي وضعیت ښه دی. د ناشویل د ښار د پولیسو مشر جان ډریک خبریالانو ته ویلي چې څېړونکو له چاودنې ځای سره نږدې نسج چې ښایي د انسان د بدن پاتې شونی وي، موندلی دی. خو تر اوسه په چاودنې کې د چا د وژل کېدل نه دي تایید شوي. پولیسو تر اوسه د چاودنې د ممکنه هدف په هکله څه نه دي ویلي. د فدرالي هوا نوردۍ ادارې د ناشویل هوایي ډګر ته پروازونه په موقتي توګه ځنډولي ځکه چې د چاودنې نه وروسته د مخابرې په سیستم کې ستونزې پیدا شوې وې. په همدې حال کې د فدرالي تحقیقاتو ادارې یا اېف بي آی ویلي چې د چاودنې په هکله د تحقیقاتو مشري کوي.


عزیزی بانک
Azizi Bank

عزیزي بانک د MFR (مایکرو فایننس رټینګ) لخوا په مالي برخه کې په لوړه درجه بندۍ کې راغلی


MFR
FINANCIAL RATING
The MFR Rating Committee assigns to
AZIZI BANK, Afghanistan
Grade: BB+ Outlook: Stable
Adequate capacity to manage risks. However, this capacity may be significantly affected by a deterioration of the operations or economic conditions. Adequate fundamentals.
Milan, November 2020
Aldo Moauro, Managing Director
Ivan Sannino, Head of Rating Committee
UNLESS EARLIER REVOKED BY MFR OR BY MATERIAL CHANGES THAT AFFECT RATING STATUS, THIS CERTIFICATE IS VALID FOR 12 MONTHS FROM THE DATE OF EMISSION OF THE RATING

**عزیزي بانک په دې وروستیو کې د MFR (مایکرو فایننس رټینګ) لخوا په مالي برخه کې په لوړه درجه بندۍ کې راغلی. د کرونا ناروغۍ پر مهال د ستونزو او ننګونو سره سره، عزیزي بانک د (BB+) درجه ترلاسه کړه چې د خطراتو د ښه مدیریت او ښه رهبرۍ ترڅنګ د بانک ځواکمن مالي حالت ښيي.**

MFR یوه خصوصي او خپلواکه نړیواله درجه بندي کوونکې اداره ده چې په ټولګټونه تمویل کې تخصص لري. دا د نړۍ ترټولو فعاله اداره ده چې د ۱۰۰ څخه زیاتو هېوادونو کې له ۲،۰۰۰ څخه ډېر د درجه بندۍ ماموریتونه ترسره کړي.

MFR د ایټالیا په میلان ښار کې مرکزي دفتر لري چې د نړۍ په ٤ لویو وچو کې یې سیمه ایز دفترونه فعالیت کوي او په مالي، کریډیټ، ټولنیزو برخو کې د درجه بندۍ او څېرک محافظتي تصدیقونه چمتو کوي.

**د عزیزي بانک رهبري پلاوی د خپلو ګرانو پیرودونکو څخه د هغوی د باور او د عزیزي بانک له لارې د بانکي معاملاتو د ترسره کولو په پار مننه کوي.**



عزیزی بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې ښه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې ښتوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومټریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې ښه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af | 1515

